په افغانستان کې د 2014 کال د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د څار ماموريت

لومړنۍ اعلاميه

د ۱۳۹۳ کال د تلې ۶ نېټه

د پراخـو درغليـو د تورونـو پـه لـړ کـې، عيناً د 2009 او 2010 کلـو ل ټـاکنو تورونـو تـه ورتـه،د ډمـوکراسی د برياليتـوب پـه موخـه لا هم د پـام وړ اصـلاحاتو تـه اړتيـا ليـدل کيـږي. له دي ټولـو ننګوونـو سره سره د ۱۳۹۳ کال ټـاکنې د قـدرت ليـږد (انتقـال) له يـو ولسمشرـ څخه بـل ولسمشرـ تـه پـه سـوله ايزه توګـه او د داکـتر اشرف غـني احمـدزي د تحليـف مـراسم چـه ويـل کيږی د دوشنبې په ورځ د ۱۳۹۳ کال د تلې د مياشتې په ۷ مه نيټه به تر سره شی.

له بـده مرغـه، د دوهم پـړاو ټـاکنو ورسـتيی پـايلې چـه د ۱۳۹۳ کال د غبرګـولي د مياشـتې پـه ۲۴ نيټـه ترسـه شـوې، لکـه څرنګـه چې د پراخـه او هـر اړخـيزه تفتيش پـه پـايله کـې جوتـه شـوه، د افغانسـتان د ټـاکنو د خپلـواک کميسـيون لخـوا اعلان نـه شـوې. همـدا رنګـه د ټـاکنو کميسـيون تـر اوسـه د ولايـتي شـوراګانو د ټـاکنو پـايلې، چـې شـپږ مياشـتې وړانـدې د ۱۳۹۳ کال د وري په ۱۶ مه ترسره شوې وې، هم ندي اعلان کړي.

د ډمـوکراسي انټرنشـنل اداره د څـارنې (نظارت) يـو پراخـه ماموريـت د تـير کال د سـلواغې پـه مياشـت کې پيـل کـړ او د ټـاکنو د ټولـو پړاونو څخه چې د وري پـه ۱۶ مـه او د غبرګـولي پـه ۲۴ مـه او اړخـيزې څيړنـې (تفتيش) له بهـير څخه چې د دوهم پړاو په ټاکنو کی کارول شوی وې ، څارنه وکړه.

د ډمـوکراسي انټرنشـنل ادارې ، خپـل اوږد مهـاله څـارونکي د دواړو ټـاکنو لپـاره د وري او غبرګـولي پـه مياشـتو کـې او همدارنګـه د 50 څخـه زيات نړيـوال څـارونکي يـې د هـر اړخـيزه څيړنـې (تفتـيش) لپـاره افغانسـتان تـه ، واسـتول. دغـو څارونکو د ټـاکنو څخـه د مخـه کړنـو او فعـاليتونو، د ټـاکنو د ورځـې پـه اوږدو کـې ، د رايـو شميرنـې ، د رايـو ثبتـول پـه سيسـتم (ديټـابيس) کـې او د ټـاکنو د خپلـواک کميسـيون او د ټـاکنيزو شـکايتونو د کميسـيون د علـني غونـډو څخـه څارنـه وکـړه. همـدا رنګـه د ډمـوکراسي انټرنشـنل ادارې کتـونکي ډلـې پـه انتخـاباتو کـې ښـکيلو خـواو سره بيلابيلـې غونـډې پـه کابـل او ولاياتـو کـې د ټـاکنو د خپلـواک کميسـيون، د ټـاکنيزو شـکايتونو کميسـيون، د ولسمشرـۍ او ولايـتي شـوراګانو نومانـدانو او د هغـوی د کمپـاينونو، د مـدني ټولنـو بنسـټونه ، دولـتي چـارواکو، ډيپلومـاتانو، نـورو کتونکـو او څـارونکو ادارو او د نړيـوالې ټـولنې د استازو په ګډون، ترسره کړي دي .

د ۱۳۹۳ کال د غبرګولي د مياشـتې د هـر اړخـيزه څيړنـې (تفتـيش) بهـير چـه د نړيوالـو لخـوا څـارل کيـده د څرنګـوالي او څـومره والي له پلوه بـې سـاری وه. دغـه بهـير – اکـثراً پـه ناسمـه توګـه بيـا شميرنـه بلـل کيـده – چـه د دواړو نومانـدانو، ډاکـتر اشرف غـني احمـدزي او ډاکـتر عبـدالله عبـدالله د جوړجـاړی پـه پـايله کـې د امريکـې د بهرنيـو چـارو وزيـر جـان کـيري پـه منځګړيتـوب د چنګـابس پـه ۲۱مـه نيټـه د پراخـو درغليـو د تورونـو له امـله رامينـځ تـه شـو. کـه څـه هم د افغانسـتان د ټاکنو پـه

قانون کې ، د ټاکنو په اړه د شکایت په طرحه کې ، د هیواد اساسي قانون او ټاکنیز سیستم کې داسې څه چې دارنګه هر اړخیزه څیړنې (تفتیش) ترسره شي ، نه وه ویل شوي . د ۲۲۸۲۸ صندوقونو فزیکی څیړنه (تفتیش) د چنګاښ د میاشتی په ۲۶مه نیټه د نړیوالو څارونکو او ملګرو ملتونو تر څار لاندی پیل او د وږي د میاشتی په ۱۴مه نیټه پای ته ورسید.

د تیاری نشتوالی ،او د څیړنې فوق العاده ممحوالی په ترڅ کې دا ښېر یې په ځانګري او د قانوني چوکاټ څخهه په وتلي بڼه مدیریت کړ.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون په پایله کې خپل واک نړیوالو ، په خاصه توګه ملګرو ملتونو سازمان ته وسپاره. داچې رایې څرنګه وڅیړل شي او د رایو د باطله کیدو تګلاره په لومړیو اوونیو کې هره ورځ بدلیده او تر اخر په همدې ډول پاتې شو. د نوماندانو د استازو ترمینځ شخړو د څیړنې ښېر یې له ستونزو سره مخامخ کړ. په پایله کې د ډاکتر عبدالله استازي د ښېر څخه په بشپړه توګه ووتل.

له بده مرغه، څیړنې د ښېر تر پایه، حتې د ورستی علني غونډې چې د وږي په ۲۳ نیټه تر سره شوه سیاسي خبرو اترو ونشوکړای د ټاکنو ښېر چې د زرګونو کډونوالو لکه ټاکنیز کارکونکې، د نوماندانو استازو، او نړیوالو څیړونکو تلاش دا ښېر بریالی کړي.

پداسی حال کی چی د درغلیو سره سره دواړو نوماندانو ادعا کوله او تائیدوله یې چې افغان ولس میلونونه قانوني رایې په صندوقونو کې وکارولې . نړیواله او افغان ټولنه د رایو ورکونکو تعهد د دموکراتیک ښېر په وړاندې ، لکه څنګه چی هغو په دواړو ټاکنیزو پړاونو کې د افغانستان په نا امنه شرایطو کې ګډون وکړ، باید وپوهیږې او احترام یې وکړی.

د ډموکراسی انټرنشنل بنسټ چې خپل کتنیز ماموریت د افغانستان په درې دورو ټاکنو کې تر سره کړی چې د ۲۰۰۹ کال ولسمشریزی او ولایتي شوراګانو ټاکنې د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنې، او د ۲۰۱۴ کال د ولسمشری او ولایتي شوراګانو ټاکنې.

د ۲۰۰۹ کال څخه را په دېخوا د ډموکراسي انټرنیشنل بنسټ د ټاکنیزو اصلاحاتو د تقوې په موخه له اړوندو ادارو په ګډون د مدني ټولنو او حکومت سره کار کوي. د دې تجربې پر بنسټ د ټاکنو او راتلونکي حکومت د مشروعیت په موخه د افغانستان حکومت ته وړاندیز کوو ترڅو د ټاکنو د ښېر د اصلاح او د ټاکنیز سیستم په ټولو برخو کې د بیا کتنې لپاره تلاش وکړي.

پداسی حال کی چی د درغلیو سره سره دواړو نوماندانو ادعا کوله او تائیدوله چه افغان ولس میلونونه قانونی رای په صندوقونو کی وکارولی. نړیواله ټولنه و افغان ټولنه د رایو ورکونکو تعهد د دموکراتیک ښېر په وړاندی، لکه څنګه چی هغو په دواړو ټاکنیزو پړاونو کی د افغانستان په نا امنه شرایطو کی ګډون وکړ، باید وپوهیږی او احترام یې وکړی.

د ډموکراسی انټرنشنل اداره تر دی دمه دری ټاکنیز پړاونه څارلی دی; د 2009 کال ولسمشریزو او د ولایتی شوراګانو ټاکنی، د 2010 کال د ولسی جرګی ټاکنی، او د 2014 کال ولسمشریزو او ولایتی شوراګانو ټاکنی. د 2009 کال راهسی،

د ډموکراسي انټرنشنل اداري د نظریاتو د پراخې تبادلې لپاره د ټاکنو د ریفورم او اصلاحاتو په موخه د افغانو ښکیلو خوا تر منځه د مدني ټولنې او دولت په ګډون کار کوي. د همدغې تجربې په اساس د راتلونکو ټاکنو او دولت د مشروعیت د خوندیتوب په خاطر، موږ پې ټینګه د افغانستان له دولت څخه غواړو تر جدي او پراخه هڅې د ټاکنو د بهیر د ریفورم لپاره د د ټول ټاکنیز بهیر د بیاکتنې او غور په ګډون پر غاړه واخلي.

د ډموکراسي د ټینګښت او د ازادو او ډموکراتیکو ټاکنو ترسره کول د قانون په رڼا کې د مشرانو ټاکل او د قدرت د لیږد یواځنې قانوني لاره ده، افغان دولت باید د خلکو اعتماد یوځل بیا د ټاکنو پر بهیر او د ټاکنو پر اداره کوونکو بنسټونو، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون، تر لاسه کړي. له دې امله د افغان دولت نه په کلکه غوښتنه کوو چې.

- **د ټاکنو پایلې اعلان کړي:** د هر اړخیزې څیړنې (تفتیش) د بهیر د پایلو اعلان بې له ځنډه، څکه چې روښتیا (شفافیت) د تقلب ضد او د دموکراتیک او ازاد بهیر یو مهم عنصر- دی؛ افغان ولس حق لري تر څو ټولو جزئیاتو باندې پوه شي او د رایو د شمیر په اړه ټول شته معلوماتو ته او ټولې هغه رایې چې په صندوقونو کې اچول شویدي لاس رسی ولري.

- **ټاکنیزې درغلۍ جرم وپیژندل شي او تعقیب شي:** ټاکنیزې درغلۍ جرم وپیژندل شي د سرغړونکو د حبس لپاره اماده کې ونیول شي، تحقیق وشي که چیرې په ټاکنیزو درغلیو مرتکب شوي وي، محاکمه شي.

- **د رای ورکونکو د نوم لیکنې اغیزناک سیستم جوړول:** د هر اړخیز څیړنې د بهیر څخه د ترلاسه شویو تجروبو نه په ګټه اخیستنې د ولسي- جرګې او نورو ټولو راتلونکو ټاکنو کې د درغلیو مخنیوی د یو ستراتیژۍ له مخې د دغو مواردو په درلودلو سره (1) د اوسنی توزیع شو کارتونو بې اعتبارول (2) د ولسي- جرګې د ټاکنو لپاره دوباره نوم لیکنه او (3) د ثبت شویو رای ورکونکو د یو لست برابرول چه وکړای د دغې لست څخه په ګټه اخیستنې حساس انتخاباتي مواد په ډیر دقت توزیع او د یو وسیلې په توګه د رای اچونې په مرکزونو کې د درغلیو د منخیوی او کشف په موخه ترې کار واخیستل شي.

- **د ټاکنیزو اصلاحاتو د بهیر ایجادول:** د یوې پراخ او هر اړخیز بهیر رامنځ ته کول د بنسټیزو اصلاحاتو د اجندا د جوړولو په موخه د سیاسي چوکاټ نه په ګټه اخیستنې سره چه دوړاو نوماندانو په هغه باند د جولای په 12مه نیټه پرې توافق کړی دی.

- **د ټاکنو د مدیریت کونکو بسټونو اصلاح:** د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د تشکل د قانون اصلاح کول بې له ځنډه، د یادو بنسټونو د خپلواکۍ، بې پرېتوب او د ټولو نه مهم – د مسلکي توب او بقا په نظر کې نیول؛

- **د ټاکنو په اړه د عامه پوهاوی د پروګرامونو پلی کول:** د عامه پوهاوی کمپاین جوړول او تطبیقول تر څو خلکو ته واضح چې په ټاکنیز بهیر کی څه شویدی او څه اقدامات باید په نظر کی ونیول شی تر څو په راتلونکی ټاکنی مثبت بدلون را مینځ ته شی. د مدنی ټولنی بنسټونو سره کار کول تر څو د حکومت سره د انتخاباتو په ریفورم کی ډیره ونډه ولری او مدنی ټولنه وهڅوی چې د عام ولس باور پر راتلونکو ټاکنو بیرته ترلاسه کړی.

د ډموکراسی انټرنشنل اداره به یو نهایی هراړخیزه راپور د 2014 کال د ټاکنو د ټول بهیر په اړه په راتلونکو اوونیو کی چمتو کړی.

خپل ۵۰ نړیوال کتونکی د کتنی لپاره ګمارلی وهٔ دغه کتونکی د اړوند بنسټونو سره په مرکز او د ولایاتو په کچه د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنیزو شکایاتو کمیسیون، سیاسی ګندونو، ټاکنیزو ټیمونو، د مدنی ټولنی بنسټونو، دولتی چارواکو، بهرنی دیپلوماتانو، دنورو کتونکو بنسټونه او نړیوالو بنسټونو لیدنی او کتنی ترسره کړی دی.

د ډیموکراسی انټرنشنل اداره چه د امریکی په متحده ایالاتو کی میشت دی د ډیموکراسی، حکومتوالی، څیړنیزو چوپړتیاو، تخنیکی مرستو، او د پروژو د پرمخ وړلو په برخو کی چوپړتیاوی وړاندی کوی.
د دغه بنسټ د جوړیدو راهسی- د 1382 کال څخه تر اوسه ډیموکراسی انټرنشنل د 70 څخه زیاتو هیوادونو کی کار کړی دی او تجربه لری. د ډیموکراسی انټرنشنل اداری خپل د ټاکنیزو مشاهدو ماموریتونه او ټاکنیزی مرستی په افغانستان، آلبانیا، بنګلادیش، جیبوتی، اکواډور، مصر- السلواډور، ګانا، اندونیزیا، لیبیریا، پاکستان، سوډان او جنوبی سوډان کی په بریالیتوب سرته رسولی دی. د ډیموکراسی انټرنشنل اداره، د ټاکنو د مشاهدی د اصولو او د مشاهدینو د چلند اعلامی یوه تړون کونکی دی او خپل ماموریت د دغی ا علامی او اصولو په پام کی نیولو سره، سرته رسوی. د ډیموکراسی انټرنشنل اداری په اړه د ورستیو معلوماتو لپاره دغه پاڼه *www.decmocracyinternational.com* وګوری.